مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني ۲۰۲۰/۱۰/۱۵

# ابن بطوطه او د هغه افسانوي سفرونه

دويمه برخه

جوګي جادوګران:

ابن بطوطه د هند د جوګيانو په باره کې د سترګو داسي ليدلي حالات بيانوي چې د نورو کسانو په خاطراتو کي چا چندانې نه دي ليدلي. دی وايي«...له دی طايفي څخه ډيري زياتی عجايبي ظاهريږي. له دې جملي څخه يوه دا چي دوی کولای سي په مياشتو مياشتو له خوړو او اوبو پرته ژوند وکړي. او ډېر يې کولای سي چې تر مځکي لاندي ښخ سي او هلته څو مياشتي پاته سي. د دې غارونو سرونه پوښل کيږي او يوازي يو سوری، د هوا د ننوتلو لپاره، ورکوي. حتی اورېدلي مي دي چي ځيني جوګيان کولای سي يو کال په دغو غارونو کي پاته سي.... جوګيان له غيب څخه اطلاع ورکوي او د هند سلطان د هغوی ډېر درناوی کوي او له هغوی سره ناسته ولاړه کوي.... ځيني جوګيان دا قدرت لري چي چاته وګوري هغه ځای پر ځای مړ کيږي. او عوام وايي څوک چي په نظر ووژل سي او وروسته يي سينه څيري کړه سي نو معلومه به سي چي زړه يې نسته. دوی په دې عقيده دي چي دغه جادوګران د وژل سويو کسانو زړونه خوري. دغه ډول جادوګران زياتره ښځي وي او دوی هغوی ته کفتار وايي.» دوهم جلد ص ۱۸۴

ابن بطوطه وايی « په هغو شپو ورځو کي چي سلطان په پايتخت کي وو زه يي يوه ورځ ور وبللم. سلطان له څو تنو خواصو سره په خلوت کي ناست وو. د سلطان په حضور کي دوه تنه جوګيان هم ناست ول. سلطان ماته وويل چي کښېنم او جوګيانو ته يي وويل چي دا سړی پر موږ ګران دی او له ډيرو ليري ځايونو څخه راغلی دی. تاسي داسي کارونه وکړی چي ده نه وي ليدلي. هغوی ويل پر سترګو. يو له دوی څخه چارزانو کښېنستی او هوا ته پورته سو او زموږ پر سر باندي په هوا کي پاته سو. زه حيران سوم او دونه وبېرېدلم چي پر مځکه باندي بېسده پرېوتلم. سلطان امر وکړ چي ماته دوا راکړي او زه بيرته پر هوش راغلم. ( ابن بطوطه په بېهوښي کي هم د سلطان اوامرو ته متوجه دی. ) جوګي لا هغسي په هوا کي پاته وو. ملګري يي له خپلي توبرې څخه يوه څپلی را وايستله او لکه چاته چي ډېر قارورغلی وي هغه څپلی يي پر مځکه ووهله. څپلی هواته پورته سوه او هغه جوګي ته چي په هوا کي چارزانو ناست وو، ورغله او هغه يي پر څټ باندي واهه. څپلی وارونه کول او هغه جوګي چي په هوا کي ناست وو کرار کرار را کښته کېدی او زموږ سره کښېنستی. سلطان ماته وويل هغه چي په هوا کي چارزانو ناست وو د څپلی د خاوند شاګرد دی. ما به د نورو لويو کارونو امر ورته کړی وای خو زه بېرېدلم چي ته لېونی نه سي. زه کورته راغلم او نفس تنګي راته پېښه سوه. سلطان يو ډول شربت راته را ولېږل هغه مي وخوړل او زه بيرته جوړ سوم. » ص ص ۱۸۵-۸۶

داسي ښکاري چي له ابن بطوطه څخه کله کله چين ته د خپل سفارت ماموريت هېر سوی وي او په ښارونو او ټاپوګانو کي د پاچاهانو او وزيرانو له خوا نازول کيږي. په دې ترڅ کي خورا ډيري ښځي په نکاح کوي او بيرته يي طلاقوي او په هر ځای کي لا وزيران او پاچاهان ښايستي کنيزي او غلامان هم ور بخښي. البته بيا هم درک نه معلوميږي چي د ده کمال په څه کي دی چي خلک دونه فوق العاده نازونه ورکوي او حتی د مالديو په ټاپوګانو کي خو وزير يو باغ او يو لوی کور وربخښي. په لاره کي معمولاً پر شيخانو پيښيږي او د هغوی په خانقاهو کي شپي تېروي. سړی نه پوهيږي چي د چين د پاچا لپاره هغو بې شمېره سوغاتونو ته څه پېښه سوه. ځکه چي په هغو کي يوازي سل آسونه، سل کنيزي، چي ټولي هنرمندانې او رقاصې وې او سل غلامان ورسره وه. له دومره عملې اومالونو سره سړی څرنګه له ټاپوګانو څخه بندرونو او له بندرونو څخه بيرته هغو ټاپوګانو او لا بيرته بندرونو ته ځي. سړی مجبور دی چي د ابن بطوطه پر نکل غوږ ونيسي او له ده سره هر څه ممکن وبولي. زه نه پوهېږم چي د دغه راز يوه دروغجن سړي په ياداشتونو چا څرنګه باور کړی او څرنګه لا تر اوسه په ډيرو معتبرو کتابونو او تحقيقاتو کي د ريفرنس په حيث اشاره ورته کيږي. د ده هغه کيسه چي د مالديو د ټاپوګانو د اوسېدونکو د مسلمان کېدلو علت يي بولي په زړه پوري ده خو له بده مرغه چي په ويکي پيډيا کي لا هم د ده معلومات د ريفرنس په توګه ورکول کيږي. دی وايي:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

« د محل له باوري کسانو څخه څو تنو لکه فقیه عیسی یمني، فقیه علی معلم، قاضي عبدالله او ځینو نورو نکل کاوه چي د مالدیو د ټاپوګانو اوسېدونکي کافران وه. ( مالدیو د هند د جنوب په شپږ سوه کیلومیتري کي د تقریبا ۱۲۰۰ کوچنیو ټاپوګانو یوه مجموعه ده. جهاني) هره میاشت به له سمندر څخه یو دېو را پورته کېدی او د دې ټاپوګانو خواته به راغی. کله چي به دا دېو د ټاپوګانو سره څرګند نو د هغه بدن د یوې کښتۍ په شکل وو چي ټوله له قندیلانو ډکه وه. او رواج داسي وو چي کله به دا دېو ښکاره سو نو د ټاپوګانو اوسېدونکو به یوه پېغله سینګار کړه او د سمندر پر غاړه به یې هغي بتخانې ته چي کړکۍ یې د دریاب خواته وه وروستله. دا پېغله به د شپې په هغه بتخانه کي وه او سهار چي به خلک بتخانې ته ورغلل نو وبه یې لیدل چي پېغلي خپل بکارت له لاسه ورکړی او مړه ده. دا عمل به هره میاشت تکرارېدی او پېغله به په قرعه انتخابېده او هره کورنۍ مجبوره وه چي، د قرعي په اساس، خپله پېغله بتخانې ته واستوي. شیخ ابوالبرکات د یوې سپین سري په کور کي اوسېدی ( د کفارو په ملک کي شیخ له کومه سو ؟ ) کله چي د هغې سپین سري د پېغلي لور نوم په قرعه کي را پورته سو او هغې ساندو او ژړاوو ته ملا وتړله نو شیخ ابوالبرکات د ژړا او فریاد د علت پوښتنه وکړه. شیخ د سپین سري په ژبه نه پوهېدی او یوه ترجمان کیسه ورته بیان کړه. ( مسلمان شیخ د کافري سپین سري په کور کي اوسېږي او په ژبه یې هم نه پوهیږي ؟ ) شیخ دوی ته وویل چي غم مه کوی. زه به د پېغلي پر ځای بتخانې ته ولاړ سم. شیخ رېږه نه درلوده او ساده روی وو. ابولبرکات یې د شپې بتخانې ته بوت. هغه اودس درلود او د قرآن په تلاوت یې بناء وکړه. کله چي دېو کړکۍ ته نیژدې سو او د قرآن تلاوت یې واورېدی نو وتښتېدی. ابوالبرکات تر سهاره تلاوت وکړ او کله چي سهار خلک بتخانې ته ورغلل نو ویې لیدل چي شیخ په تلاوت لګیا دی او دېو په خپله مخه تللی دی. خلک خپل پاچا ته چي شنورازه نومېدی ورغلل او کیسه یې ورته تېره کړه. پاچا ډېر تعجب وکړ. ابولبرکات پاچا ته ورغی او له هغه څخه یې د مسلمان کېدلو هیله وکړه. پاچا ورته وویل چي که بله میاشت له دغه دېو څخه سلامت پاته سوې نو زه به مسلمان سم. بله میاشت یې ابوالبرکات بتخانې ته بوت. دېو ښکاره نه سو او ابوالبرکات تر سهاره تلاوت کاوه. خلکو چي دا حال ولیدی نو بتان یې مات کړل او ټولو ایمان راوړ. د نورو ټاپوګانو اوسېدونکو ته یې هم اطلاع ورکړه او ټول مسلمانان سول.
دغه دېو، له اسلام څخه مخکي ، د دې ټاپوګانو خلکو ته ډېر زیات تاوانونه رسولي وه او چي زه هلته وم نو په دې کیسه نه وم خبر. یوه شپه په کار لګیاوم او یو دم د لا اله الله او تکبیر ناري پورته سوې. هلکانو قرآنونه پر سر نیولي وه او ښځو مسي لګنونه او لوښي ټکول. ما تعجب وکړ او پوښتنه مي وکړه چي دا څه نکل دی. ناستو کسانو راته وویل چي ته نه ګورې؟ د دریاب خواته مي وکتل که ګورم چي یوه لویه کښتۍ را روانه ده او لکه ټوله چي له څراغونو او مشعلونو ډکه وي. دوی ویل دا هغه دېو دی چي په میاشت کي یو ځل ښکاره کیږي او چي موږ دغه مراسم اجراء کوو نو دی وګرځي او موږ ته تاوان نه را رسوي. » دوهم جلد ص ص ۲۲۸-۲۹
که دا کیسه ابن بطوطه یوازي د خلکو له قوله کولای نو چنداني خبره نه وه خو دا چي دی وايي پخپلو سترګو یې دېو ولیدی چي په څراغونو روښاني کښتۍ په شکل د جزیرې خواته را روان وو بیا نو د ده ټولو خبرو ته باید د شک په نظر وکتل سي.
ابن بطوطه د خپلو سفرونو په ترڅ کي، له چین څخه هند ته د راستنېدلو په لاره کي، په سمندر کي، له یوې عجایبي سره مخامخ کیږي. دی وايي زموږ سفر په درې ځلوېښتمه ورځ تر لمر خاته وروسته مو په سمندر کي یو غر ولیدی. زموږ په اټکل مو له هغه غره سره تقریباً شل میله فاصله درلوده؛ او باد هم موږ د هغه غره خواته بېولو. کښتۍ وانان حیران ول چي دلته خو نیژدې نه ساحل سته او نه غر. که مو باد هغي خواته یوسي نو زموږ کار خراب دی. یو ناڅاپه مي ولیدل چي هغه غر هواته پورته سو. زه حیران وم او کښتۍ وانانو په ژړا او زاریو پیل وکړ. ما ویل څه نکل دی دوی ویل هغه چي موږ فکر کاوه غر نه دی بلکه رُخ دی او که موږ وویني موږ به ټول له منځه یوسي. د خدای فضل وو چي باد د کښتۍ د حرکت سمت ته تغییر ورکړ او موږ له رُخ څخه لیري سولو او ما د هغه شکل سم ونه لیدی. ص ۳۲۴
ما په خپل ټول ژوند کي، د هیڅا په خاطراتو کي، او په بل هیڅ کتاب کي په دغه سویه دروغ نه دي لوستي. په سمندر کي له شل میله فاصلې څخه ټول غر نه بلکه د عره څوکه معلومیږي. که له شل میله فاصلې څخه یو مرغه د غره په څېر ښکاره سي نو دا به څومره عظیم الجثه موجود وو؟ د یوه سړي په خاطراتو کي چي دومره لوی دروغ، چي ساری یې لیده سوی نه دی، ولوستل سي نو زه حیران یم چي د هغه خاطراتو ته لا څرنګه په جدي نشر کتل کیږي او لا څرنګه استناد ورباندي کیږي؟
زه بشپړ یقین لرم چي ابن بطوطه دا لوی او افسانوي مرغه د « الف لیله و لیله» له کتاب څخه د « سیندباد د سمندر او سیندباد د وچي » له نکل څخه، چي د ریچرډ برټن د انګلیسي ترجمي په شپږم ټوک کي راغلی دی، را اخیستی دی.
په هغه نکل کي سیند باد وايي چي موږ په کښتۍ کي سپاره وو او یوه ټاپو ته ورسېدلو چي هر ډول مېوې پکښې پریمانه وې. زه تر یوې وني لاندي خوب یووړم او چي را پاڅېدم کښتۍ راڅخه تللې وه. په ټاپو کي یوې جګې وني ته پورته سوم او یو لوی ګردی سپین شی مي له لیري ولیدی. چي نیژدې ورغلم هغه یوه لویه سپینه ګنبده وه. پر هغي باندي شاوخوا را وګرځېدم او هیڅ لاره یې نه درلوده. په دغه وخت کي یو ډول تیاره سوه او د لمر مخ پټ سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چي پورته مي وکتل ړُخ په هوا ګرځېدی. دا هغه مرغه دی چي خپل بچيان د پيل په غوښو مړوي. هغه چي ما ويل سپينه ګنبده به وي هغه د ړُخ هګۍ وه. څه وخت وروسته تياره سوه او لمر پټ سو او چي پورته مي وکتل ړُخ راغی او پر هغه سپينه ګنبده کښېنستی او وزرونه يې ورباندي وغوړول....
د ابن بطوطه ړُخ هماغه د سيندباد ړُخ دی، چي دوراه افسانوي او خيالي موجودات دي؛ او که چيري موجود وه نو هغه به د ډاينسور عصر وو؛ البته نه په دې لوی والي. په زړه پوري خبره بيا هم دا ده چي محققين لا څرنګه د ده سفرنامه جدي بولي.
ابن بطوطه وايي « له دې پيبني څخه دوې مياشتي وروسته جاوه ته ورسېدلو او د سوماټرا په ښار کي له کښتۍ څخه کښته سولو. ملک ظاهر له کفارو سره له جنګ څخه را ستون سوی وو اوډېر زيات بنديان يې له ځان سره راوستلي وه. له هغوی څخه يې دوې نجوني او دوه هلکان ماته را واستول. ما ته يې له معمول سره سم کور راکړ او د پاچا له ورېرې سره د پاچا د واده په مراسمو کي مي برخه واخيستله. » دوهم جلدی ص ۳۱۴
ابن بطوطه له دې څخه وروسته د اندونيزيا د پاچا د دونه مېلمه پالنو او نازونو په باب ږغيږي چي يوازي د يوه مېلمه پاچا له شان سره ښايي. البته ابن بطوطه، د خپل معمول سره سم، موږ ته نه وايی چي د اندونيزيا له پاچا سره د ده پېژندګلوي څرنګه وسوه او دی څوک وو چي د يوه لوی ملک پاچا يې دونه عزت کاوه چي سمدستي يې دوې ښايستي نجوني او دوه هلکان ور ولېږل. ابن بطوطه په دې هم نه دی خبر چي جاوا بېل ټاپو او سوماټرا بېل ټاپو دی. او د سوماټرا په نوم ښار نسته. څوک چي په سوماټرا کي کښته سي بيا نو جاوا ته د واده د مراسمو او مېلمستيا لپاره نه سي تللای. ځکه چي دا د اوبښ په مزل د څو شپولاره ده او تر منځ يې لا اوبه هم دي او بايد سړی په کښتۍ کي ولاړ سي. طبيعي خبره ده چي ابن بطوطه يوازي د دې جزيرو نومونه اورېدلي وه او که نه وي نو دا غلطي يې نه کوله.
ابن بطوطه د هندوستان د کاليکټ تر بندر پوري رسيږي. دی وايي زړه مي غوښتی چي ډهلي ته ولاړ سم خو له عاقبت څخه ووېرېدلم او له هغه ځايه په اته ويشت ورځي کي د ظفار بندر ته ورسېدم. ابن بطوطه دا نه وايي چي ولي له عاقبت څخه ووېرېدی او څه ګناه يې کړې وه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ